# سوات به بيا جنت شي

## د پښتونخوا د اطلاعاتو د وزير ميا افتخار حسېن خبرې اترې

اداره



پښتون: اې اين پي چې په کومو حالاتو کښې په حکومت کښې راغله، په دغه حواله کۀ څۀ ووايئ؟

ميا صاحب: د انتخاباتو نه مخکښې زمونږ پښتنه سيمه کښې د امن و امان مسئله ډېره زياته خرابه وه، مونږ د عوامو نه ووټ د امن په نوم واخستو ځکه نو زمونږ دا کوشش ؤ چې زر تر زره په پښتونخوا کښې امن راولو. زمونږ موقف دا ؤ چې د گولۍ په ذريعه امن نۀ شي راتلے ځکه نو مونږ اول د مذاکراتو د لارې د دې مسئلې د هوارۍ دپاره گامونه وچت کړل. مونږ امريکه او مرکزي حکومت په دې قائل کړل چې د امن راوستو دپاره خبرې اترې پکار دي او دا د وخت ضرورت دے. نو مونږ وړومبے قدم دا واخستو چې صوفي محمد مو رها کړو چې د خلقو اعتماد بحال شي او يوه د ورورولۍ فضا جوړه شي او يقيناً چې د صوفي محمد په رهائي عوام خوشحاله وو. بيا مونږ دغې ډلو سره مذاکرات شروع کړل. يوه معاهده مو وکړه هغه معاهده داسې وه چې څۀ خبرې زمونږ په ذمه وې او څۀ د هغوي په ذمه وې، زمونږ په ذمه دا وو چې د هغوي کوم ملگري گرفتار شوي دي، هغوي دې پرېښودے شي، دوېمه غوښتنه ئې دا وه چې د شريعت نفاذ دې وشي او درېمه خبره ئې دا کوله چې پوځ دې لاړ شي او څلورمه خبره دا وه چې امام ډېرۍ کښې دې اسلامي يونيورسټي جوړه شي.

پښتون: ستاسو مطالبې څۀ وې؟

ميا صاحب: زمونږ د هغوي نه دا مطالبې وې چې تاسو به وسله وغورځوئ، مسلح گشتونه به نۀ کوئ، سرکاري املاکو ته به نقصان نۀ رسوئ، متوازي حکومت جوړولو کوشش به نۀ کوئ. ټرېننگ سنټرونه به بندوئ. د صوبائي او مرکزي حکومتونو رټ به تسليموئ او د يو عام اوسېدونکي په شان به اوسئ. دا زمونږ او د هغوي ترمنځ يوه لوظنامه وه چې د دواړو طرفو نه پرې دستخطونه شوي وو، دا زمونږ لويه گټه وه کومه چې د دې معاهدې په ذريعه مونږ وکړه.

پښتون: د معاهدې د ناکامه کېدو وجوهات څۀ وو؟

ميا صاحب: زمونږ په ذمه چې کومې خبرې وې په هغې کښې يوه د هغوي د ملگرو رهائي وه، مونږ وې چې دوي به د عدالت په ذريعه په تدريج رها کولے شي. اسلامي يونيورسټي مو اعلان کړه، د هغې

دپاره مو فنډ مختص کړو او د پوځ په حواله مو ورسره دا خبره وکړه چې کله امن راشي نو فوځ به په تدریخ خپلو بارکونو ته لاړ شي. دې دوران کښې دوي دا مطالبه شروع کړه چې زمونږ ګرفتار کسان دې في الفور رها کړے شي، حالانکې زمونږ د دوي سره دا خبره شوې وه چې دغه کسان به عدالتونو ته پېش کولے شي او کېس ټو کېس به دوي رها کولے شي.

بیا ئې دا مطالبه وکړه چې پوځ دې سمدستي واپس شي، دا هم ښکاره د معاهدې خلاف خبره وه ځکه چې معاهده کښې دا خبره شوې وه چې امن راشي نو پوځ به به تدریج واپس کړے شي. بل په دې دوران کښې دوي بیا خپلې کارروائۍ شروع کړې، سکولونه ئې الوځول، مسلح ګشتونه ئې شروع کړل او د دې کارروایو اعتراف ئې هم کولو.

پښتون: دې کښې خو بېت الله هم مداخلت کړے ؤ؟

میا صاحب: دې دوران کښې د هنګو یو عسکریت پسند رفیع الدین ګرفتار شو چې د بېت الله ډېر خاص سړے ؤ. د سوات دې ډلې چې ورسره معاهده شوې وه دا مطالبه وکړه چې دا سړے زر تر زره پرېږدئ. مونږ ورته په ځواب کښې ووې چې زمونږ تاسو سره شوې معاهده د ملاکنډ ډویژن په سطح ده، د دې د چوکاټ نه بهر ستاسو هېڅ حق نه جوړېږي چې زمونږ نه مطالبه وکړئ. دا خبره دې حد ته ورسېده چې ښت الله محسود د دې معاهدې د ختمولو اعلان وکړو، دا

میا افتخار حسین ۱۵ اپریل ۱۹۵۸ کښې د نوښار پبو په میاګانو محله کښې پېدا شوے دے. ابتدائي تعلیم ئې د باچا خان د ازاد سکول نه حاصل کړے دے، بیا کهاریا (پنجاب)ته منتقل شوي دي. ۱۹۶۵ کښې د جنګ په وجه کهاریا ښار خالي کړے شو او دوي واپس د نوښار پیرپیائي ته راغلۀ، ورومبۍ زدکړې ئې د اسلامیه کالجېټ نه پوره کړې او بیا ئې د پبو د ګورنمنټ هائي سکول نه لسم وکړو. د ایف اې دپاره چې ئې اسلامیه کالج کښې داخل شو نو په ورومبۍ ورځ د پښتون ایس ایف غړے شو چې وروستو ئې پکښې ډېر فعال کردار ولوبوو. تهرډائیر کښې د پښتون ایس ایف ګورنمنټ کالج پېښور صدر منتخب شو. ۱۹۷۹ء کښې د ګورنمنټ کالج نه د ښوارلسم کولو نه پس پېښور پوهنتون ته لاړو. ۱۹۸۰ء کښې د پښتون ایس ایف صوبائي صدر منتخب شو. پښتون ایس ایف په ۱۹۸۳ء کښې د مارشل لاء خلاف د ایم آر ډي سره شریکه مبارزه کوله. د دې تحریک په دوران کښې دې په ورومبي ځل د خپلو مشرانو سره د چوک یادګار نه ګرفتار کړے شو او اووۀ میاشتې هري پور جېل کښې پاتې شو. ۱۹۸٤ء کښې یو ځل بیا پېښور جېل کښې نظر بند کړے شو.

۱۹۸۵ء کښې د جنرل ضیاءالحق د غېر جماعتي الیکشن خلاف د پښتون ایس ایف د احتجاجي تحریک په دوران کښې ونیوے شو او اتۀ میاشتې قېد کړے شو. ۱۹۸۵ کښې د یو کارکن د قتل په حواله بنو ته لاړو او هلته ئې تقریرونه وکړل، د پولیسو د ګرفتارۍ نه بچ شو خو په واپسۍ کښې په لاره ګرفتار کړے شو او ډومېل ته بوتلے شو، د هغه ځائے نه بیا ډېرو ته بوتلے شو او بیا په دې شرط رها کړے شو چې ښغ به پېښور ته ځي خو د دې باوجود ئې ګومل پوهنتون کښې د پښتون ایس ایف جلسې ته خطاب وکړو. ۱۹۸۵ء کښې د پښتون ایس ایف مرکزي صدر غوره کړے شو. ۱۹۸۸ کښې د الیکشن دپاره د اې این پي د اړخه د سټوډنټس لائف نه ښغ په ښغه د ټکټ هولډر په حېث پارټۍ ته لاړو. د ۱۹۸۸ الیکشن کښې بریالے نۀ شوخو د ۱۹۹۰ په انتخاباتو کښې کامیاب شو او د صوبائي اسمبلۍ غړے منتخب شو او د بېګم نسیم ولي خان پارلیماني لیډرشپ کښې د پارټۍ پارلیماني سکرټري غوره کړے شو. د ۱۹۹۳ په الیکشن کښې صرف په ۱٤۹ ووټونو پاتې شو. ۱۹۹۷ انتخاباتو کښې بیا په صوبائي ټکټ کامیاب شو. ۲۰۰۲ الیکشن کښې بیا بریالے نۀ شو او د ۱۸ فرورۍ ۲۰۰۸ په الیکشن کښې کامیاب شو، اول د پښتونخوا وزیرتعلیم او بیا د ټرانسپورټ او اطلاعاتو وزیر وټاکلے شو.

میا صېب د خپل سیاسي کېرئیر په دوران کښې د پارټۍ آفس سکرټري، جائنټ سکرټري، د اطلاعاتو سکرټري، ډپټي جنرل سکرټري او د صوبائي جنرل سکرټرۍ په عهدو خپل فعال رول لوبولے دے. د پښتون مجلې کارکوونکو د سوات د تېر او اوسني صورتحال په حواله د میا صاحب سره تفصیلي خبرې اترې کړې دې چې ستاسو د وړاندې دي.

اداره

زمونږ بد قسمتي وه چې دومره کامیابه معاهده دوي ناکامه کړه او د دښمنانو هغه خبرې ئې رښتیا ثابتې کړې چې په دې معاهده دوي ځان مضبوطول او وخت اخستل غواړي، نۀ چې امن راوستل غواړي.

بیا دوي د سوات امن جرګې په وساطت مونږ سره خبرې شروع کړې، زمونږ حکومت د افراسیاب خټک صاحب په مشرۍ کښې چې زۀ هم ورسره وم مونږ ورسره د خبرو نه انکار په دې وجه وکړو چې تا سره اختیار نشته، ځکه چې مونږ تاسره معاهده وکړه او هغه د وزیرستان نه بیت الله محسود ختمه کړه.

پښتون: د صوفي محمد سره د معاهدې څۀ پس منظر دے؟

میا افتخار: مونږ چې د طالبانو سره نیغ په نیغه کومه معاهده وکړه د هغې انجام خو دغه شو چې بیت الله ماته کړه نو چونکې د صوفي محمد سره زمونږ د وړاندې نه هم یوه معاهده شوې وه چې تر دغې دمه ئې هغه پوره پابند ؤ، بله خبره دا وه چې طالبانو هغه ته ډېر احترام لرۀ نو مونږ دا فېصله ځکه وکړه چې د هغۀ د شخصیت نه مونږ په امن راوستو کښې ډېر مدد اخستے شو.

پښتون: تاسو چې د صوفي محمد سره د خبرو اراده وکړه نو د طالبانو د اړخه هم د هغې هر کلے شوے ؤ؟

میا صاحب: او بالکل هغوي د شورئ د اجلاس نه پس هر کلے وکړو او وئیل ئې چې صوفي محمد څۀ فېصله وکړه، هغه به تحریک طالبان سوات ته هم قبوله وي نو ځکه مونږ نور هم پر امیده شو چې په دې ذریعه به د اور او وینې دا لوبه بنده شي او د خلقو ځان او مال به محفوظ شي.

پښتون: د معاهدې کولو په وخت او وروستو خو په تاسو د بهر دنیا او د ملک دننه سیاسي ګوندونو او دانشورانو ډېر اعتراضونه هم لرل او د معاهدې خلاف وو؟

میا صاحب: بالکل هم داسې وه او په داسې حالاتو کښې معاهده کول اسان کار نۀ ؤ. اوباما چې صدر شو نو اعلان ئې وکړو چې امریکه د ماډریټ طالبانو سره مذاکراتو ته تیاره ده نو مونږ وئیل چې امریکه په خپله د طالبانو سره خبرې اترې کولې شي نو مونږ ولې نۀ شو کولې، حالانکې په ځنې ځایونو کښې مونږ خپل د پارټۍ منشور هم نظر انداز کړو، ځکه چې معروضي حقائق داسې وو چې د خلقو د وینې تویولو دا عمل ودرول وو او نو مونږ هرې قربانۍ ته تیار وو، تر څو چې د ملک دننه د مخالفت خبره ده نو مونږ هېڅ کله خپله ذاتي خوښه نۀ ده کړې او نۀ مو په خپل سر څۀ فېصله کړې ده، مونږ د معاهدې نه اول د صوبې د ټولو سیاسي ګوندونو او د ملاکنډ ډویژن د مشرانو سره او د ژوند د بېلابېلو څانګو سره تعلق لرونکو پوهانو دانشورانو یوه جرګه راوغوښته او د معاهدې فېصله په دغه جرګه کښې وشوه.



پښتون: په دغه جرګه کښې جماعت اسلامي ګډون ولې نۀ ؤ کړے حال دا چې دوي خو د خبر اترو لارې ډېرې زوتوي؟

میا صاحب: د صوبو ټولو ډلو شرکت کړے ؤ، سېوا د جماعت اسلامي نه چې هغوي خپل نمائنده هم نۀ ؤ رالېږلے. د دې نه د دوي د رجحاناتو پته لګي چې کله د خبرو اترو او مذاکراتو خبره کېده نو دوي پکښې شرکت کول ضروري ونۀ ګڼل خو چې کله بیا وروستو دغه معاهدې ته فضا ډېره هواره شوه او هر چا ئې هر کلے او حمایت کاوۀ نو جماعت اسلامي هم مجبوراً د دې د حمایت کولو بیان جاري کړو خو هغه هم دوي د مجموعي سیاسي فضا نه مجبوره وو چې ملامته کېدل.

پښتون: معاهده کښې خاص خاص نکات کوم وو؟ یا د هغوي مطالبات څۀ وو؟

میا صاحب: د هغوي مطالبه د نظام عدل، قاضي کورټس او دارالقضاء وه چې مونږ ورسره متفق وو، د هغې دپاره لارې چارې برابرول د حکومت ذمه واري وه.

پښتون: د معاهدې نه پس صورت حال ولې یو دم بدل شو؟

میا صاحب: لکه څنګه چې ما ووې چې کله تحریک طالبان د شورئ د اجلاس نه پس اعلان وکړو، چې صوفي محمد څۀ فېصله وکړو نو مونږ ته به قبوله وي او لس ورځې سیزفائر اعلان ئې هم وکړو نو بیا مونږ نور هم پرامیده شو خو چې په کومه ورځ معاهده لاس لیک شوه، هم په هغه ورځ طالبانو په بونېر حمله وکړه او نور جارحانه اقدامات ئې شروع کړل، دوي ګوکن دره، شلبانډۍ، ډګر او د پیر بابا مزار قبضه کړو خو مونږ په دې حالاتو کښې هم د ډېر صبر، تحمل او سیاسي لارو چارو نه کار واخستو او پوره کوشش مو وکړو چې دا معاهده ناکامه نۀ شي او په سوات کښې امن راشي.

پښتون: بونېر کښې خو خپل یو ډېر مضبوط قومي لښکر هم موجود ؤ؟

میا صاحب: کله چې طالبان بونېر ته تلل نو لښکر ئې مخه ونیوه او کۀ لښکر موجود وے نو هېڅ امکان نۀ ؤ چې طالبانو بونېر قبضه کړے وے، څکه چې د دې نه وړاندې هم دوي چې کوشش کړے ؤ نو قومي لښکر ورته ډېر سخت شکست ورکړے ؤ او ټول ئې وژلي وو خو دغه وخت چې د ملاکنډ ډویژن کوم کمشنر ؤ جاوید، هغه د بونېر خلقو سره دوکه وکړه، هغه لښکر ته وئیل چې تاسو کورونو ته لاړشئ دوي خو تش تبلیغ کوي او واپس ځي په بونېر د قبضې څۀ اراده نۀ لري او د دغه ځائے نه د بونېر د بدمرغۍ اغاز وشو.

پښتون: د دې نه پس بیا لښکر یا د بونېر خلقو څۀ مزاحمت ونۀ کړو؟

میا صبب: لښکر چې خور شي بیا راغونډېدل او راغونډول ئې ګران وي او بیا چې خبره دومره توده وي په جنګي نقطۀ نظر چې کوم اهم ځایونو، کنډوونه او مورچې وې هغه خو طالبانو ونیوې نو لښکر خو بیا بې وسه شو حالانکې بیا هم پوره مزاحمت وشو خو خو اوبۀ د ورخه تېرې وې؟

پښتون: حکومت د کمشنر جاوېد نه څۀ پوښتنه وکړه کنه؟

میا صاحب: کمشنر په دغه دوران کښې د غلط بیانۍ نه کار واخستو، مونږ چې ورسره په دې حواله خبره وکړه نو وئیل ئې تاسو په خپله راشئ د بونېر حالات وګورئ، حکومت زۀ غوره کړم چې لاړشم او په

خپله د بونېر د حالاتو جائزه واخلم. هلته ما په غور د حالاتو جائزه واخسته،زۀ چې کله بونېر کښې ګرځېدم کمشنر او نور ټول کسان راسره وو، مونږ له يووار نيم دوه ګاډي مخې له راغلل چې وسله وال پکښې ناست وو، زما په پوښتنه کمشنر ځواب راکړو چې دا خو مقامي خلق دي او خبره ئې ګول مول کړه خو زۀ پوهه شوم، بيا چې کله زۀ د پيربابا مزار ته لاړم نو هلته خبره نوره واضحه شوه. پير بابا له خو زۀ مخکښې هم ځوځو واره تلے يم، د هغې ځائے رونقونه مې ليدلي دي، زۀ چې لاړم نو د پيربابا بازار خوشې پروت ؤ، د مزار سره چې کوم لوئے جومات دے په هغې کښې يو عبادت کوونکے هم نۀ ؤ، حالانکې دا په عامو حالاتو کښې هيڅ امکان نۀ لري. د جومات او د مزار ترمينځه چې کومه فاصله ده په هغې کښې د ملنګانو چوپړې وې چې ګڼ ملنګان پکښې ناست وي دغلته يو ملنګ هم نۀ ؤ او چوپړې ورانې کړې شوې وې، دننه چې مزار ته لاړم په مزار څادر هم نۀ وۀ حالانکې داسې کېدے نۀ شي چې د پيربابا په مزار دې شال يا څادر نۀ وي.

پښتون: د دې صورت حال په حقله د کمشنر څۀ تبصره وه؟

ميا صاحب: ما پوښتنه وکړه چې دا څۀ دي او کۀ دلته طالبان نشته نو دا هر څۀ داسې ولې دي؟ دوي وئيل دلته په مزار کښې غلط کارونه کېدل نو د هغې مخنيوے پکار ؤ، ما ورته وئيل چې کۀ غلط کار کېږي دا اختيار دوي له چا ورکړے دے چې د هغې خلاف اقدامات وکړي دا خو زمونږ ذمه واري ده او مونږ پښتانۀ په خپل کور، کلي او محله کښې غلط کار نۀ منو نو په جومات او روضه کښې به څنګه کوم غلط کار وشي. بيا زۀ ګوکن درې ته لاړم هلته چې د غرۀ په لمن کښې کومه پوليس څوکۍ ده، هغه خوشې پرته وه، صرف يو مجذوب حاله غونډې کس پکښې ناست ؤ، ما ترې نه پوښتنه وکړه چې عمله څۀ شوه، خلق څۀ شو او تۀ څۀ کړې، وئيل ئې طالبان راغلل ټول ئې ووهل، وې ټکول او وئې شړل، زۀ معذوره وم پوليس والا له به مې د پخلي کار کاوۀ نو ماته ئې څۀ ونۀ وئيل. دۀ غر ته ګوته ونيوه چې هغه دي اوس هم دي، مونږ چې بره وکتل نو مورچې مو په نظر راغلې چې شل دېرش طالبان پکښې ناست وو او باقاعده د ټوپکو او مشين ګنونو شپېلۍ ئې ښکارېدې خو زمونږ په اشارو او ګوتو نيوو دوي يو طرفته پټ شو. بيا زۀ شلبانډې ته لاړم، هغلته هم دغه صورت حال ؤ، بونېر کښې ما د مېډيا سره خبرې وکړې او خپل ليدلي کتلي مې ورته صفا صفا ووې.

پښتون: صوفي محمد خو هم د کمشنر سره بونېر ته تلے ؤ؟

ميا صاحب: کله چې صوفي صېب بونېر ته لاړو چې د بونېر نه طالبان واپس کړي خو کمشنر دۀ سره هم چال وکړو، څنګه چې زۀ تلے وم او دۀ طالبان پوهه کړي وو چې ډډې ته شئ، دغسې ئې دا وار وکړل چې مېډيا ته ئې شو کړل چې طالبان د بونېر نه ووتل خو د منصوبې مطابق په نورو لارو دوي بيا بونېر ته راننوتل خو د مېډيا نه خبره پټه نۀ پاتې کېږي، دغه د واپس داخلېدو خبر هم مېډيا ته راغے او دا چال هم کامياب نۀ شو.

پښتون: د دې صورت حال په حواله ستاسو د صوفي محمد سره څۀ خبرې اترې وشوې؟

ميا صاحب: مونږ صوفي صېب ته ووې چې تا خو وئيل چې زۀ به په طالبانو وسله ږدم او خبره د هغې نه اپوټه روانه ده، صوفي صېب وئيل چې اعلان خو وشو خو څۀ پکار دي چې زۀ هغوي ته وښايم تاسو

قاضیان مقرر کړئ، شریعت کورټس قائم کړئ نو بیا
به دوي وسله کېږدي، مونږ ورسره ومنله خو دوي لاړل
دیر ته واوړېدل.

پښتون: دیرکې حالات څنګه خراب شول؟

میا صاحب: دیر ته دوي لاړل او د وزیرستان او
باجوړ نه د مقامي عکسریت پسندو سره سره غېر
ملکي انتهاپسند هم د دیر په لار سوات ته راتلل
شروع شو، د دې مخنیوے ضروري ؤ، بیا چې کله
دیر میدان کښې دوي په سکیورټي فورسز حمله وکړه
نو فورسز جوابي کارروائي وکړه. صوفي صېب د
مذاکراتو معطل کولو اعلان وکړو او د ډزبندۍ
مطالبه ئې وکړه خو مونږ اوس پوهه وو چې دا کار د
صوفي صېب په وس کښې نۀ دے او د هغه په خُلۀ
پسې تلل پکار نۀ دي. مونږ دۀ د مطالبې مطابق د
قاضیانو فېصله کړې وه خو دۀ څان غائب کړو او
ټولې رابطې ئې منقطعې کړې، مونږ اعلان وکړو چې
صوفي محمد صېب کۀ هر ځائے وي رابطه دې وکړي
چې زمونږ سره د قاضیانو مقررولو په فیصله کښې
کښېني، په څلورمه ورځ دے راپېدا شو، مونږ
تیمرګرې ته لاړو خو دۀ به تا تاثر ورکولو چې هغه نور
خلق زما خبره نۀ مني.

پښتون: صوفي محمد د سوات د ګراسي ګراؤنډ
د "تاریخي جلسې" او خطاب په حقله څۀ وایئ؟

میا صاحب: زمونږ دا پروګرام ؤ چې قاضیان
مقرر شي نو مینګوره کښې به یوه لویه جلسه کوو،
ګورنر او وزیراعلی به ځي خو دۀ زمونږ نه خبره
مخکښې کړه او په خپله ئې د جلسې اعلان وکړو. بیا
هم زمونږ سره سره د ټولو خلقو توقع دا وه چې دے به
طالبانو ته وائي چې نظام عدل نافذ شو، قاضیان
مقرر شو اوس تاسو وسله کېږدئ او کۀ څوک وسله نۀ
ږدي هغه باغي دے خو صوفي محمد صېب چې هلته
کومه ګل پاشي وکړه هغه تاسو ته معلومه ده چې
پارلېمنټ، آئین، قانون، عدالت، جمهوریت ټول ئې
کفر وګرځو. چې په دې تقریر ټول خلق حېران هم شو او
خفه هم او په دغه لړه موده کښې چې صوفي محمد د
امن دپاره د هلو ځلو په نوم کوم مقام او عزت ګټلے ؤ،
نو په دغه تقریر د هغه ګراف د اسمان نه زمکې ته
راپرېوتو.

پښتون: د صوفي محمد سره تېمرګره کښې
وروستي ملاقات کښې ستاسو د هغۀ سره په څۀ
اتفاق رانغے؟

میا صاحب: د ټولو نه لویه خبره فائربندي وه،
هغه د ډزبندۍ مطالبه کوله او دا مونږ ته په هېڅ
صورت قبوله نۀ وه، پنځلس ورځې چې هغوي په
مختفو مقاماتو حملې او قبضې کولې او خلق ئې
وژل، دۀ هېڅ نۀ وئیل بیا چې هغوي په فورسز حملې
شروع کړې او فورسز جوابي کارروائي شروع کړه نو په
داسې وخت کښې د سیزفائر اعلان کول دغه ټوله
علاقه او ټول اولس انتها پسندو ته سپارل وو.

پښتون: د تیمرګرې د مذاکراتو نه وروستو
ستاسو د مولانا محمد عالم او امیرعزت خان سره هم
خبرې شوې وې؟

میا صاحب: زما د دواړو سره رابطه وشوه، دوي
راته وئیل چې اوس تاسو د سیزفائر اعلان مۀ کوئ،
څکه چې زمونږ د طالبانو سره هېڅ رابطه نۀ کېږي او
هسې نه چې ستاسو ډزبندي یو اړخیزې شي او هغوي
بیا هم خپلې کارروائۍ جاري وساتي. زۀ پوهه وم چې
مسئله د رابطې نۀ ده خو د دوي په هغوي هېڅ وس نۀ
رسي، دوي وئیل تاسو سحر رابطه وکړئ، ما سحر
رابطه وکړه، دوي مطالبه وکړه چې فورسز سره تازه

جګړه کښې چې کوم ۲ کسه وژل شوي، د هغوي لاشونه او کوم شپږ چې نیولي شوي د هغوي رهائي، د دې نه علاوه د معاهدې نه پس چې تر دې دمه په ټول ډویژن کښې څومره انتهاپسند نیولي شوي دي هغو ټول دې هم را پرېښودے شي او تر دې چې هري چند کښې د معاهدې نه پس د سوات طالبانو کومه خودکش حمله کړې وه او کوم کسان پکښې په موقعه ګرفتار شوي وو چې د ټولو ثبوتونو سره هغوي د دغې چاؤدنې ذمه وار وو، د هغوي فوري رهائي د دوي مطالبې وې. ما ورته وئیل چې مونږ خو صرف د نفاذ عدل او قاضیانو وعده کړې ده، تاسو چې د غوښتو کوم پنډورا بکس پرانستو دا خو دوي له ځانله ستېټ جوړول دي او ورته مې ووئیل چې تاسو زمونږ سره د قاضیانو په مقررولو مشوره نۀ کوئ نو مونږ به بیا د خپل طرفه د دې اعلان کوو، دوي خبره اخوا دې خوا کړه او مونږ په سبا له د قاضیانو اعلان وکړو.

پښتون: خبره کله اپرېشن طرفته لاړه؟

میا صاحب: کله چې مونږ د نظام عدل اعلان وکړو، پارلېمنټ پاس کړو، صدر دستخط کړو مونږ قاضیان مقرر کړل او بیا دوي وئیل چې مونږ وسله نۀ ږدو دا زمونږ کالے دے او مونږ به د ټوپک په زور په ټول پاکستان کښې څۀ چې په ټوله دنیا کښې د خپلو نظریاتو په زور د نافذولو دپاره خپل جنګ جاري ساتو نو بیا زمونږ سره بله لار نۀ وه.

پښتون: د اپرېشن فېصله چا وکړه؟

میا صاحب: څنګه چې مونږ د نظام عدل دپاره د ټولو خلقو او سیاسي ګوندونو په مشوره فېصله کړې وه هم دغسې مو د اپرېشن دپاره د ټولو سیاسي ډلو غونډه راوبلله او د ټولو متفقه فېصله وه چې اوس د دې مسئلې حل صرف دا دے چې پوځي کارروائي وکړے شي او د حکومت رټ بحال کړے شي. بیا وزیراعظم سېد یوسف رضا ګیلاني د اپرېشن شروع کولو باقاعده اعلان وکړو.

پښتون: په دغه فېصله کښې جماعت اسلامي او جمعیت علماء اسلام هم وو، دوي بیا ولې د اپرېشن مخالفت کوي؟

میا صاحب: د دوي الفاظ دا ؤ چې د امن و امان ذمه داري د حکومت ذمه واري ده، څوک چې د حکومت رټ چېلنج کوي او امن و امان خرابوي نو دا د حکومت آئیني او قانوني ذمه واري ده چې د خپل رټ بحالولو دپاره جوابي کارروائي وکړي، دوي وئیل چې ستاسو دپاره دومره خبره کافي ده او خپل کار په سختۍ سره وکړئ، تر دې پورې ئې ووئیل چې کله کله به مونږ مېډیا کښې د دې د مخالفت بیانونه هم ورکوو خو تاسو خپله کارروائي سرته ورسوئ، د دې ټولو خبرو ریکارډ موجود دے.

پښتون: مونږ ګورو چې په دغه حواله ټولې فېصلې اې این پي د ټولو سیاسي ډلو او نورو مشرانو په صلاح مشوره کوي بیا اې این پي ولې ټارګټ ده؟

میا صاحب: د هغې وجه دا ده چې تر اوسه دې مسئلې ته چا په سنجیدګۍ غور نۀ ؤ کړے او د اېم اېم اې غوندې جماعت خو دا قصداً نظر انداکړې وه. مونږ چې راغلو نو ووټ خلقو د امن په نوم راکړے ؤ، زمونږ ورومبۍ ذمه واري د امن قائمول وو او دي. اې این پي په دې مېدان کښې د دغه عناصرو په ناپاکو مقاصدو کښې د ټولو نه لوئے خنډ ده نو ځکه په دې جنګ کښې د ټولو نه زیات نقصان زمونږ و شو او لا روان دے. زۀ د هغې په تفصیل کښې نۀ ځم خو تاسو ته پته ده چې زمونږ د مشرانو افضل خان لالا او اسفندیار خان نه واخله په ډېرو عهدېدارانو قاتلانه حملې وشوې، د ډېرو

ایم این ایز، ایم پي ایز ورونه عزیزان ووژل شول، کارکنان شهیدان کړے شو او لا دغه سلسله روانه ده. د امن دپاره دا د اې این پي قرباني دي.

پښتون: د تېرو دوه دورونو د غېر مؤثره پوځي کارروائۍ او اوسني اپرېشن تاسو څنګه موازنه کوئ؟

میا صاحب: د نظام عدل د نفاذ سره دغه عناصر په سیاسي توګه ښېخي یوا ځې شو، ټول خلق د اپرېشن په حق کښې شو، زۀ په دې نازکه مرحله کښې د تېر وخت قبصې نۀ چېړم خو دا ځل زمونږ پارټي او حکومت د اپرېشن نه مطمئن دي البته نور داسې امکانات هم شته چې اپرېشن د دې نه زیات مؤثر کړے شي. د ټول اولس چې کومه توقع ده چې د دې قوتونو سرکرده مشران دې زر تر زره خپل انجام ته ورسولے شي دغه زمونږ هم خیال دے چې د انتهاپسندو قیادت دې ختم کړے شي، ودې وژلے شي نو د عوامو اعتماد به هم بحال شي او د فوځ مورال به هم لوړ شي.

پښتون: ستاسو مطلب دا دے چې د پوځ تېره کارروائي ډېره مؤثره نۀ وه او تاسو په سوات کښې د پوځ د مستقل قیام په حقله څۀ رائې لرئ؟

میا صاحب: بالکل مونږ هغه وخت هم د کابینې د اجلاس نه پس پرېس بریفنګ کښې وئیلي وو چې دا کارروائي مؤثره نۀ ده دا دې مؤثره کړې شي، په دې زمونږ حکومت او عوام تحفظات لري. زمونږ د سوات ممبرانو په اسمبلۍ کښې قرارداد وړاندې کړو او صوبائي اسمبلې په دې حقله قرارداد منظور کړو، ترڅو چې په سوات کښې د پوځ د مستقل قیام تعلق دے نو اوس خو لا هلته کارروائي جاري ده او دا د پاکستان پوځ دے سوات هم د پاکستان برخه ده، هلته پوځ ولې نۀ شي پاتې کېدے.

پښتون: د متاثرینو په حواله حکومت خپله ذمه داري څومره پوره کړې دي؟

میا صاحب: دا د دنیا د ټولو نه لویه نقل مکاني وه چې شمېر ئې ۳۸ لکو ته رسېدلے ؤ، زمونږ اصل اتلان هم دغه متاثرین دي چې په دغه جنګ کښې ئې د ټولو نه لویه قرباني ورکړې او بیا د مردان، چارسدې، صوابۍ، نوښار، پېښور او نورو سیمو هغه خلق چې دغه متاثرینو ته ئې په خپلو کورونو او خپلو زړونو کښې ځائے ورکړو، دغه زمونږ هېروز دي، رښتیا خبره خو دا ده چې دا د حکومت دپاره ممکنه نۀ وه چې دومره لوئے شمېر کښې متاثرین وپالي. مونږ د خپلو وسائلو او اختیاراتو نه زیات کوشش کړے دے چې دغه متاثرین په ښه طریقه وپالو خو بیا هم دا ټول کرېډېټ د پښتونخوا اولس ته ځي چې دغه ورونړو خوئېندو ته ئې مینه محبت ورکړو او د هغوي سره ئې په دې سخته کښې لاس وکړو.

پښتون: اوس د متاثرینو واپسي شروع شوې ده، حکومت د تباه شوي سوات دپاره څۀ پروګرام لري؟

میا صاحب: په هنګامي بنیادونو چې د کومو ورانو سرکاري عمارتونو، سکولونو وغېره او د خلقو د کورونو مرمت کېدے شي، حکومت هغه کوي، دا به وخت اخلي مونږ د متاثرینو دپاره په خپلو خپلو علاقو کښې د خېمو او راشن وغېره بندوبست کړے دے نور د دوباره ودانۍ دپاره به لږ وخت پکار وي. د دې به سروې کېږي او د خلقو د نقصاناتو جائزه به اخستې شي او بیا به د هغې رپورټ مطابق د ودانۍ عمل شروع کولے شي.

پښتون: د متاثرینو واپسي به څومره وخت اخلي؟

میا صاحب: د ځنو علاقو خلق مونږ د تلو نه منع کړي دي لکه اپر دیر، کبل، شانګله او چغرزو پُوله او یو څو نور ځایونه چې هلته لا کارووائي روانه ده،دا به ډېره زر مکمل شي او ټول خلق به خپلو کورونو ته واپس شي او سوات به بیا جنت شي.

پښتون: هلته د تعليمي هلوځلو څۀ صورت حال دے؟

ميا صاحب: سکولونه پرانستي شوي دي، چې کوم سکولونه وران دي هلته د خېمو بندوبست شوے دے او ورو و رو ژوند معمول ته راځي.

پښتون: زمونږ ذاتي اطلاعات دي چې اوس هم د کوز دير او ملاکنډ اېجنسۍ په سکولونو کښې متاثرين دېره دي؟

ميا صاحب: دغه شمېر ډېر کم دے، د هغې دپاره مونږ بندوبست کړے دے چې نزدې کوم کېمپونه خالي شوي دي، هغې ته ئې رامنتقل کړو او دغه سکولونه خالي کړو.

پښتون: د پښتون مجلې او د دې د لوستونکو دپاره څۀ پېغام؟

ميا صاحب: پښتون مجله يو تاريخ حېثيت لري، دې مجلې د پښتو په صحافت کښې يو ډېر اهم رول لوبولے دے او د پښتنو په سياسي شعور را بېدارولو کښې هم د دې مجلې کردار منلے شوے دے. د پښتنو په ثقافتي او ادبي ترقۍ کښې هم د پښتون مجلې کردار د هېرولو نۀ دے. پښتنو ته خواست کوم چې دا مجله ولولي او د دې د خوبيو او خاميو په حقله خپله رائې ورکړي او دغسې د پښتنو د ټولنې په پرمختګ او پښتنو په سياست کښې د دې رول نور هم مؤثر کړي. ▪